## د رنګ کولو (رسامۍ) کتاب (صفرې کچه)

| | |
|---|---|
| **توضیحات:** | زده کونکي د طبقو په اړه په فکر کولو، د لغتونو په جوړولو، د انځورونو په بیانولو، او د کلمو د تلفظ او نحو په موندلو سره خپل د رسامۍ کتابونو ته وده ورکړي. |
| **مخکینه پوښتنه:** | آیا کولی شئ چې خپل د رسامۍ کتاب جوړ کړئ؟ |
| **اړین تولټال وخت:** | په ۵ ورځو کې ۵ ساعته |
| **د اړتیا وړ لوازم:** | کتابچه یا ورقه، پنسل، پنسل پاک او رنګونه |
| د زده کړې پایلې: | • په کوچنیو او لویو حروفو د انګلیسي تورو لیکل<br>• د مختلفو کلمو د لمړیو تورو پیژندل او تلفظ کول<br>• د مختلفو شکلونو پیژندنه او رسمول<br>• په مختلفو تورو پوهیدل<br>• په دې پوهیدل چې څنګه د کلمو جوړولو لپاره توري کارول کیږي<br>• په مختلفو برخو کې د شیانو، حیواناتو، خلکو او نورو لپاره د لغتونو پراختیا<br>• د 1-5 څخه د عددونو شمیرل او لیکل |
| مخکینۍ زده کړه | هیڅ یو |

## لمړی ورځ

نن ورځ به تاسو د خپلو رسامۍ کتابونو په جوړول پیل وکړئ.



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| فعالیت او توضیحات | ورانديز شوی |
|---|---|
| ● که تاسو مخکي د رنګ کولو کتابونه یا پاڼي کارولي وي، د هغه څه په اړه فکر وکړئ چې تاسو يي په اړه خوښ یاست.<br>● که تاسو د انځور / رنګ کولو کتاب ته لاسرسی لرئ، د حوالي لپاره يي وګورئ. هڅه وکړئ چې د دي ډول کتاب ځیني ځانګړتیاوي په ګوته کړئ. | ۵۰ دقیقي |
| دلته ځیني پوښتني دي چې کولی شي ستاسو سره مرسته وکړي:<br>● تاسو کوم ډول کرښي ګورئ؟<br>● د دي کتاب او هغو کتابونو چې تاسو يي پيژنئ ترمنځ توپير څه دی؟<br>● تاسو په هره پاڼه کي څه وینئ؟<br><br>ځیني ممکن ځوابونه کېدای شي په لاندي ډول وي:<br>- دلته مختلف داسي شیان شتون لري چې په تور رنګ کي رسم شوي او بیا دننه د رنګ کولو لپاره خالي پاتي شوي دي.<br>- په هره پاڼه کي د شیانو یو ټاکلی شمیر شتون لري، چې ډيری وخت یوه صحنه وي یا هم د مختلفو طبقو او تورو لپاره توکي وي.<br><br>تاسو د خپل رسامی  کتاب لپاره د کاغذ ۳ ټوټو ته اړتیا لرئ چې تاسو کولی شئ دا کاغذونه د پاڼي په دواړو خواوو کي وکاروئ. دا کیدی شي هر  هغه کاغذ وي چې ستاسو د لاس اوږدوالی سره سم وي. د کاغذ اوږدوالی باید ستاسو د ځنګل څخه ستاسو تر مروند پوري وي ترڅو تاسو وکولی شي چې انځور په بشپړه توګه سره وځارئ<br><br>د یوې طبقي یا کټګورۍ په اساس باید تاسو د رسم د کتابونو په هرو پیځو صفحو کي یو څو مشخص شیان رسم کړئ. د بیلګي په توګه، په ۴ صفحه کي ۴ انځورونه او په ۳ صفحه کي ۳ انځورونه رسم کړئ. باید مطمئن شي چې ستاسو رسامي د رنګ کولو وړ وي (باید رنګ شوي نه وي).<br><br>همدا رنګه، د شیانو تعداد، د صفحو نمبر، او کوچني او لوی حروف چې د انځور شوو شیانو د نومونو اول حروف دي ولیکئ.<br><br>د کتاب له وروستی پاڼي یا ۵ مخ څخه پیل وکړئ.<br><br>د ۵ مخ (صفحي لپاره) | |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

| | |
|---|---|
| په خپل کور کې د پنځو مختلفو شیانو په اړه فکر وکړئ چې تاسو یې غواړئ په خپل کتاب کې رسم کړئ، د بیلګې په توګه: کټ، میز، څوکۍ، کتاب او داسې نور.<br><br>که تاسو د خپل نقاشۍ په پیل کولو کې ستونزه لرئ، مور او پلار یا د کورنۍ غړی کولی شي تاسو سره مرسته وکړي هغه شکلونه او توضیحات چې تاسو یې ګورئ تشریح کړئ. دوی همدا راز تاسو سره مرسته کوي چې څنګه په فضا کې د دري بعدي حالتونو څخه شیان په کاغذ باندې دوه بعدي انځورونو ته بدل کړئ.<br><br>که تاسو د نارنج په څیر ساده شکل رسم کړئ، دوی ممکن ووایي ...<br><br>*"تاسو څه فکر کوئ چې نارنج څه ډول ښکاري؟"*<br>*" هو، نارنجي ګرد ښکاري، لکه د یوې حلقې یا دایرې په څیر.*<br>*تاسو غواړئ په کاغذ باندې دایره څومره ستره رسم کړئ؟"*<br>*"د نارنج د پوټکي رنګه جوړښت ماته د نقطو په څیر ښکاري. تاسو ډیری تکي چیرته وینئ؟ د نارنج بل طرف ته؟ تاسو چیرته غواړئ دا په خپل انځور کې شامل کړئ؟"* | |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

کچيرته تاسو يو ډير مغلق او پيچلی شکل رسموی، لکه يو ګل، تاسو بايد د همغه شي په دننه برخه کې پټ شوي شکلونه معلوم کړی. دا عمل تاسو سره کومک کوي ترڅو ووایاست: ...

- *ولې مونږ د ګل رسم کول د هغه له منځنې برخې څخه نه پيل کوو؟ له هغه ځايه چې تاسو ناست ياست، هغه په کوم شکل سره ښکاري؟*
- *يو بيضوي شکل؟ ښه، تاسو خپل بيضوي شکل چيرته غواړی رسم کړی؟*
- *اوس راځئ چې د ګل پاڼو ته وګورو! ... وګورئ هغه څومره اوږدې او نرې دي او تاو شوي سرونه لري؟ آيا تاسو دې ته چمتو ياست چې هغه له دې څخه وروسته وکاروی؟*
- *داسې ښکاري چې تاسو د ګل غوړيدل رسم کړل، اوس د ساقې او پاڼو په اړه څه فکر کوی؟ ساقې ته وګورئ: څومره سيده، اوږده او نرې ده. آيا تاسو ته ښکاري چې هغه د غوړيدلي ګل په کوم ځای پورې نښتې ده؟ ولې له هماغه ځايه څخه ساقه نه رسموی. اوس وګورئ چې پاڼې کوم شکلونه لري؟*

- ددې لپاره چې دا فعاليت د لغاتونو له مخې نور هم ستونزمن کړی، تاسو کولی شی شيان د کټګورۍ له پلوه غوره کړی. د بيلګې په توګه، هغه شيان چې په مختلفو تورو سره پيل کيږي، يا د داسې شيانو سره پيل کړئ چې د هغوی نومونه او فعاليتونه تاسو ته ډير روښانه نه وي، او يا هم داسې شيان چې د هغوی نومونه په يوه غږ سره پيل کيږي. او داسې نور
- ددغو شيانو نومونه او فعاليتونه زده کړئ کچيرته تاسو پرې نه پوهيږی.
- دغه پينځه شيان د کتاب په آخرنۍ پاڼه کې رسم کړئ. شايد دا ستاسو د رسامۍ د پروسې لپاره ډير مرسته کوونکې ثابت شي بلخصوص هغه وخت چې تاسو غواړی د شيانو شکلونه معين کړی چې تاسو پرې د وړاندې پوهيدلی. د بيلګې په توګه، يو کتاب ممکن دوه مستطيل شکلونه ولري. او داسې نور.
- په صفحه کې د شيانو تعداد وشميرئ او يو لوی د ۵ عدد د صفحې په کيڼ لورې کې وليکئ.
- ددغو شيانو تلفظ وګورئ او د هغوی د نومونو لومړني توري د شيانو خواته وليکئ.

بيلګې يې په لاندې ډول سره دي:

۵


ت


م


ک


د


پ

Page No: 5



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## ورځ ۴-۲

نن به تاسو د خپل کتاب ۴ نورې پاڼې تکرار کړې او بشپړې به يې کړئ.

| ورانديز شوې موده | فعاليت او توضيحات |
|---|---|
| ۵۰ دقيقې | د ۴ پاڼې لپاره:<br>- د کور څخه بهر د ۴ مختلف شيانو په اړه فکر وکړئ چې تاسو يې غواړئ د دوی په کتاب کې رسم کړئ، د بېلګې په توګه موټرې، ونې، د بس تمځايونه، ګلونه او داسې نور.<br><br>د 3 پاڼې لپاره:<br>- د 3 حيواناتو په اړه فکر وکړئ - يو په اسمان کې، يو په اوبو کې او بل په ځمکه کې چې تاسو غواړئ هغوي رسم کړئ، د بېلګې په توګه. ځمکه: زمری، هوا: طوطي، اوبه: کب او داسې نور<br><br>د 2 پاڼې لپاره:<br>- په کورنۍ کې د هغو دوو کسانو په اړه فکر وکړئ چې تاسو يې غواړئ په خپل کتاب کې رسم کړئ لکه مور، خور او داسې نور<br><br>د ۱ پاڼې لپاره:<br><br>د خپل د خوښې د لوبو يوه داسې توکي په اړه فکر وکړئ چې تاسو يې غواړئ په خپل کتاب کې رسم کړئ، د بېلګې په توګه ستاسو نانزکه او يا هم ستاسو توپ<br><br>● که له دغو شيانو سره بلد نه ياست، د دوي نومونه او د دوی کارول زده کړئ.<br>● دا توکي د کتاب په ورانديز شويو پاڼو کې رسم کړئ. دا به اسانه وي چې دا توکي کاپي کړئ او د دوی ځينې برخې د هغو شکلونو په توګه وښايئ چې مخکې مو زده کړل.<br>● په پاڼه کې د شيانو تعداد حساب کړئ او په پورتنۍ ښي کونج کې يې وليکئ.<br>● د دې شيانو تلفظ زده کړئ او هغه کوچني او لوی توري وليکئ چې د دې شيانو د نومونو په پيل کې راځي، او بيا همدغه توري ددغو شيانو تر څنګ وليکئ. |



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## ۵ ورځ

په وروستۍ ورځ، تاسو خپل کتاب سره یوځای کوئ.

| وراندیز شوی موده | فعالیت او توضیحات |
|---|---|
| ۲۰ دقیقي | ● د خپل د رسم کتاب لپاره لومړی مخ (د کتاب پوښ) ډیزاین کړئ.<br>● خپل کتاب لپاره یو داسي نوم انتخاب کړئ چي د کتاب له محتویاتو سره تړاو ولري له زما د رسمونو کتاب او داسي نور.<br>● د خپل کتاب لومړی مخ یا پوښ د کوچنیو لوستونکو لپاره تشریح کړئ ترڅو دوی ستاسو د کتاب په هدف پوه شي.<br>● د لیکوال او هنرمند نوم (خپل ځان په اړه) د کتاب په پوښ ولیکئ.<br>● د کتاب په هره پاڼه کي د پاڼي شمیرې ځای په ځای کړئ. |
| ۲۰ دقیقي | ● خپل بشپړ شوي تصویري کتابونه له خپلي کورنۍ او کوچنیو خویندو سره شریک کړئ ترڅو دوی دا کتاب ټول رنګ کړي. دا کتاب وکاروئ او د مختلفو مخونو رنګ کول پیل کړئ. |
| ۱۰ دقیقي | ● د دې شیانو په اړه فکر وکړئ:<br>- نوي لغاتونه چي تاسو زده کړي.<br>- په نقاشیو کي د شکلونو مختلف ډولونه او په کتاب کي د حلقو ، چوکیو ، مستطیلونو او مثلثونو ټولټال شمیره. |
| ۱۰ دقیقي | ستاسو د تجربې پراساس، د خپل رسمی کتاب بڼه کولو لپاره تغیرات راوړئ او یا یو نوی کتاب جوړ کړئ. |

## د ارزوني معیارونه

1. ډیزاین، نقاشي او خلاقیت
2. په هره کټګورۍ (طبقه) کي د شیانو په اړه په انتقادي فکر کولو لپاره فکر کول.
3. د لیکلو وضاحت
4. یو بشپړ انځور شوی د رسامۍ کتاب



EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7

## د بډایه کولو اضافي فعالیت

1. زده کوونکی کولی شي د پیل توري پر ځای توله کلمه د جوړ شوي څیز تر څنګ ولیکي.

2. زده کوونکي کولی شي ډیری پیچلي کټګورۍ (طبي) اضافه کړي دبیلګي په توګه سمندري مخلوقات، هغه شیان چې تاسو یې په شپه کې وینئ، هغه شیان چې تاسو یې په آسمان کې ګورئ، ژوندي شیان، ګټور شیان، او داسي نور.

3. زده کوونکي کولی شي د ټولني کتابتونونه پیل کړي چې بشپړ شوي کتابونه په خپلو ټولنو کې په کرایه زده کوونکو ته ورکړي.

## د اسانولو لپاره بدلون

- زده کونکي کولی شي په هره پاڼه کې لږ شیان ترسره کړي.
- زده کونکي کولی شي یوازې لوی یا کوچني توري ولیکئ.

### 1 ضمیمه: بیلګه






EAA welcomes feedback on its projects in order to improve, please use this link:
https://forms.gle/LGAP9k17fMyJrKJN7